# د دوستانو ډولونه

ليکوال: فقير حسين انصاريان
ژباړن: محمدرحيم دراني

# د دوستانو ډولونه

ژباړه: محمدرحیم دراني

د دوستانو او وروڼو د ډولونو په هکله له اهلبیتو(ع) ډېر روایتونه نقل شوي دي او د دې لپاره چې انسان په پوهې سره په دې لاره کښې قدم اوچت کړي، پکښې د هر ډول ملګرو او دوستانو بېلګې په روښانه توګه ذکر شوي دي.

هغه کوم یو کس دے چې په خپل ژوند کښې یې ډول ډول ملګري نه وي لیدلے؟

په هغو ملګرو کښې داسې کسان هم موجود وو چې په هغوي به دې باور او اطمینان کاوه، او د هغوي سره له ملاویدو به خوشحالیدلې. او همدارنګ داسې ملګري هم شته چې تا له یې د غمونو نه پرته بل څه نه دي درکړې داسې کسان په ظاهر کښې ملګري او پټه دښمنان دي. چې خپل مکر او چالاکي د خپل ملګري لپاره په زړه کښې پټه ساتي او غواړي چې ملګري ته یې څه نه څه بدي ورپېښه شي.

له همدې وجې ډېره ویره پکار ده چې هسې نه وي چې انسان د داسې تالي ستو په خبرو کښې ګېر شي ځکه چې داسې کسان له هغه دښمنانو نه زیات خطرناک دي چې کوم په ظاهره دښمني کوي.

أُولئِكَ شَرٌّ مَكَاناً وَاَضَلُّ سَبِيْلاً او یو شاعر په عربۍ کښې داسې ویلي دي:

و صاحب لی کداء البطن صحبته ----- یودنی کوداد الذئب للراعی یثنی علی جزاه اللّه مکرمة ----- ثناء هند علی روح بن زنباع

اوس د دې لپاره چې خبره لا زیاته روښانه شي د اهلبیتو(ع) څخه د ملګرو د ډولونو په هکله راغلي لاندیني حدیثونه لوستونکو ته بیانوو:

امیرالمؤمنین حضرت علی علیه السلام فرمایي:

ملګري په دوه ډوله دي: یو هغه ملګري چې د باور او اعتماد وړ وي، او دویم هغه ملګري چې خنده مخي وي،

هغه ملګري چې د باور وړ وي لکه تلي، وزرې، کورنۍ او مال، نو هر کله چې په خپل ملګري باور لرې نو خپل مال او وخت د هغه لپاره ولګوه، د هغه ملګرو سره ملګرې شه او د هغه له دښمنانو سره دښمن شه د هغه رازونه او پټې خبرې پټې وساته او د هغه مرستیال اوسه او د هغه ښې خبرې څرګندې کړه ځکه چې داسې ملګري ډېر کم پیدا کیږي.

او هغه دوستان چې خنده رو وي له هغوي نه تاسو ته خوند او خوشحالي رسیږي نو دا ملګرتیا هغوي سره مه پرېږده او د دې زیات له هغوي نه تمه مه لره او لکه څومره چې تا سره ښه او په خوشحالۍ ملاویږي ته هم ورسره هم داسې ملاویږه.

د شهیدانو سردار او مشر حضرت حسین بن علی(ع) فرمایلي دي: ورونه په څلور ډوله دي: یو هغه ورور چې ستا لپاره دے او ته هم د هغه لپاره یې، بل هغه ورور چې ستا لپاره دے، بل هغه ورور چې ستا پر خلاف دے او بل هغه ورور چې نه هغه ستا لپاره دے او نه ته د هغه لپاره یې.

له هغه حضرته د دې خبرې د معنې په هکله پوښتنه وشوه نو ویې فرمایل: هغه ورور چې ستا لپاره دے او د ځان لپاره دے هغه ورور دے چې خپلې ملګرتیا سره ستا د رورولۍ د باقي پاتې شونې غوښتونکې دے او خپلې ملګرتیا سره د خپل ورور د مرګ غوښتونکې نه دے.او دا ستا لپاره دے او د خپلې ګټې لپاره هم دے او چې هرکله دا ورورولي یې پوره شي د دواړو ژوند به خوشحال او خوږ شي.او هر کله چې ورورولي له یو اړخه وي او پکښې تناقض او برخلافي وي د دواړو اړخه ورورولي به ناروغه او نیمګړې وي.

هغه ورور چې ستا لپاره دے هغه کس دے چې ځان یې له تمې ژغورلې دے او ستا اړخ ته یې رغبت او میل پیدا کړے دے له همدې وجې کله یې چې ورورولۍ ته مینه وشي نو پکښې تمه نه وي نو داسې ملګرې ټول وجود سره ستا لپاره دے.

هغه ورور چې ستا په خلاف دے هغه کس دے چې ستا لپاره د ناخوښو پیښو په تمه دے او ستا پټې خبرې ښکاره وي او په کورنۍ کښې تا پسې دروغ تړي او د حسد په نظر تا ته ګوري او د خداي پاک لعنت دې وي پر هغه باندې.

هغه ورور چې نه ستا لپاره دے او نه ته د هغه لپاره یې، هغه کس دے چې خداي پاک هغه له حماقته او کم عقلې ډک کړې دے او د خپل رحمته یې لرې کړے دے او ته به هغه ګورې چې ځان په تا باندې وړاندې کوي او د خپل حرص او تمې له وجې هغه څه چې ته یې لري ځان له یې غواړي.

امام جعفر صادق(ع) فرمایلي دي:

ملګري په درې ډوله دي: یو هغه ملګري دي چې د ډوډۍ او خوراک په شان دي او هر وخت تهٔ هغوي ته اړتیا لرې او هغه هوښیاد ملګري دي.

دویم د دړد په شان دے او هغه احمق او کم عقل ملګرې دے.

دریم د دارو په شان دے او هغه هوښیار او چالاک ملګرې دے.

او همدارنګ یې وفرمایل: ملګري په درې ډوله دي: یو هغه ملګري چې ستا لپاره له ځانه تېر وي او تا سره مرسته او یاري کوي، دویم هغه ملګرې چې د خپل مال په وسیله تا سره مرسته او یاري کوي، دریم هغه چې د ځان لپاره هم ستا نه غواړي تا یوازې د ځینې خوندونو لپاره پکار راولي نو دې ته په پام سره پکار نه ده چې هغه د باور کوونکو ملګرو څخه وشمارې.

# خالي او فارغ وختونه

د ځوانۍ وختونه به په بیړې سره تیر شي او بیا بیرته نه راځي.
ځوانان، پکار دي د ژوند لپاره داسې پروګرام جوړ کړي چې له خالي وختونو نه د خپل روحي او رواني ژوند په ګټه کار واخلي او په راتلوونکي وخت کښې د خپل تعلیم د جاري ساتلو او د ښه کار په لاس راوړلو لپاره ځان چمتو کړي.
پکار دے د ځوانۍ د خالي او ارزښمن وختونو قدر وکړي او هغه وختونه هسې له لاسه ور نه کړي.
حضرت علی(ع) فرمايي: له دې وړاندې چې د بُډا والي او ضعيفۍ وخت دې راورسیږي له خپلې ځوانۍ ګټه واخله.
او همدارنګ فرمايي: کوم یو کس چې خپل وخت په سستۍ او فضول تېر کړي هیڅکله خوشحالۍ او خوشبختۍ ته نه رسیږي.
ځوانان پکار ده چې ژوند کښې نظم او پروګرام ولري چې وختونه یې د شیطان د وسوسو د ځرند ځاي جوړ نه شي.
هغه پکار ده تفریح او ورزش وکړي چې بدن او روح یې روغ وروزل شي، روغ تفریح او سیل کول انسان د ژوند د یو رنګ کارونو نه ژغوروي او ستړې ته یې نه پریږدي.
حضرت علی(ع) فرمايي: خوشحالي او شادماني د انسان د روح د روزنې سبب ګرځي.
له بده مرغه زمونږ ځینې ځوانان په دې نه پوهیږي چې له خالي وختونو څنګه ګټه واخلي.کله کله د رخصتۍ په خالي وختونو کښې ترې نه ګناه وشي، او نامشروع کارونو ته لاس اچوي او په

نتیجه کښې د ځان او د نوور د سستۍ او پښېمانۍ سبب جوړ شي.
دې ته په پام سره، یو ځوان داسې کولې شي چې د زده کړې او لوستلو نه پس ځینې خالي وختونه د ښو ملګرو په مرسته د بدني او هنري کارونو نه ډک کړي. له همدې وجې خالي وختونو لپاره لاندیني کارونه تاسو ته وړاندې کوو:
نرمش او ځینې سپک روزشونه، هره ورځ او یا په اونۍ کښې څو ځله درون ورزش کول لکه په غره ختل، لامبو وهل، والیبال، فوټبال او نور... خو پکار نه ده چې ټول خالي وختونه دې له همدې ورزشونو ډک شي بلکه یو ښه پروګرام سره پکار دي له خالي وختونو ښه ګټه واخستل شي.
هر ځوان له پکار دي چې خپل خوښ هنر او کار معلوم کړي هغې له مناسب وخت ورکړي چې هغه فن زده کړي لکه: نقاشي، عکاسي، خطاطي، شعر، مکینکي، الیکټرونک او نور... له دې وروسته چې له مطالعې ستړے شي نو کوم وخت چې ورسره خالي پاتې وي هغې کښې دې دا کارونه کوي چې په دې کارونو کښې یې هم تجربه وشي. په خالي وختونو کښې هغه ذوقي او د زړه خوښې کارونه اهمیت لري چې:
لومړۍ هغه کار چې د ستا طاقت او توان زیاتوي.
دویم هغه کار چې د روح د خوند سبب ګرځي او ژوند د وچ والي او بې روحۍ نه وباسي او انسان په څوڅو څېزونو کښې ماهره وي او څو ډوله ژوند کولې شي.
په مطالعې کښې پکار دي د درسي کتابونو پرته نور ګټه ور کتابونه لکه: اعتقادي، اخلاقي، تاریخي، سیاسي، د عامو

معلوماتو کتابونه هم مطالعه کړي له دې پرته پکار ده تجوید او د قران قرائت او نورې ژبې لکه عربي، فارسي، انګریزي او نورې هم زده کړي او په بیلا بیلو ډګرونو کښې خپل معلومات زیات کړي چې په لیدتوګه کښې يې وسعت او خپرتیا پیدا شي.
ځینې عملي مهارتونو او فنونو ته هم په ژوند کښې اړتیا پیدا کیږي او پکار ده چې د ځوانۍ په وخت کښې خالي وختونو کښې هغه زده کړې شي لکه: مکینکي او برقي (د بجلۍ) څیزونه جوړول، چې راتلونکې ژوند کښې پکار راځي.
نو پکار ده چې هر اړخ ته فکر وکړې شي او هر اړخیزه پروګرام جوړ کړې شي او د خپل فکري، ذوقي، هنري او علمي استعدادونو روزنه وکړې شي چې يو ریښتونې لید، او يو هر اړخیز شخصیت په لاس راوړې شي او انساني کمال ته نږدې شي.

## جنسي بې لارې او د هغې علاج

د پیداوښت په نظام باندې د راغلي طبیعي قانونونو د حدونو څخه وتلو ته انحراف او بې لارې ویل کیږي.
جنسي غریزه چې خداي پاک هغه د انسان د خبر او کمال لپاره او د انسانانو د نسل د باقي پاتې کیدو لپاره د انسانانو په وجود کښې ایخې ده، کیدې شي چې ځینې خلک دا غریزه د بدۍ په لار کښې استعمال کړي.
ځان په حرامو شهوتونو مړول يو ډول انحراف او بې لارې توب دے چې بدن او روح کمزورې کوي او دا ډول شهوت د انساني طبیعت په اپوټه دے.
په ځوانانو کښې د دا ډول عادت پیدا کیدل له هر څه نه زیات د هغوي د ارادې طاقت کمزورې کوي او د هغه شخصیت له منځه وړي او تباه کوي يې.
بې لارې شوې ځوان په دې کار سره د خپل درک او پوهې او عقل طاقت کمزورې کوي او ځان لپاره د زر بوډا شونې وسیله جوړوي.

د انحراف وسیلې

کله چې انسان لویيږي او د بالغیدو وخت ته ورسیږي په هغه وخت کښې د بې لارۍ وسیلې ډیرې زیاتې وي او دا ممکنه ده چې د ډیرو ځوانانو په ژوند کښې داسې وخت راشي چې د هغوي شهوت راویښ کړي او په اخر کښې د هغوي د پلیتۍ بې لارۍ وسیله جوړه کړي.

داسې جنسي خیالات چې خلک د بې لارۍ اړخ ته بیایي، هم د ځوانانو د بې لارۍ سبب جوړیږي. او دریم سبب چې انسان جنسي بې لارۍ اړخ ته دعوت کوي هغه شیطاني وسوسې دي چې پداسې حال کښې پکار ده چې د شیطاني وسوسو نه خدای پاک ته پناه یوسي، لکه څنګه چې قران فرمایلي دي:

بسم الله الرحمن الرحیم

قل اعوذ برب الناس * ملك الناس * اله الناس * من شر الوسواس الخناس * الذی یوسوس فی صدور الناس * من الجنه والناس.

کله چې انسان په داسې ځاي کښې ګېر شي چې شهوت اړخ ته بلګونکې ماحول وي نو په هغه کښې ځینې غوښتې څرګندیږي. شیطان دا غوښتې د هغه په نظر کښې ښکلې او زړه راښکونکې کړي، په زړه کښې دننه او پټې طریقې سره هغه د هغې بد کار کونې ته وسوسه کوي. او له بل اړخه عقل هم د انسان دننه مقابلې ته پاڅیږي او د هغه کار کول جائز وګڼي.

شیطان د بې لاریتوب لپاره له زړه راکښوونکو او جنسي څیزونو نه ګټه اخلي او سړے نامشروعه جنسي شهوت ته غواړي، د دې په مقابله کښې عاقلان، پوهان او الهی پیغمبران او هدایتکونکي، انسانان د عقل او فطرت په وسیله خبر ته هدایتوي او مشروعې جنسي اړیکې ته یې بلګي.

د انسان دننه دا جنګ، یعنې د عقل او شهوت مقابله، د ایمان او د نفس د غوښتنو مقابله، د الهی او شیطاني طاقتونو مقابله، به تل جاري وي. په بیله توګه د بالغیدو په لومړیو کښې دا مقابله ډیره څرګندیږي او د عمر تر اخره جاري وي. او د ژوند په بیلا بیلو وختونو کښې هر یو طاقت چې زورور شي د سړي شخصیت هماغه اړخ ته ځي او هماغه شان لویيږي.

که عقل او ایمان په هغه باندې حاکم شي نو هدایت شي او رینښتونکې شي او که شهوت او شیطان په هغه باندې مسلط او غالب شي نو بې لارې، ګمراه او نقصاني به شي.

حکم کوونکې او بلګونکې نفس د انسان په وجود کښې دا کوښښ کوي چې ـ د شیطاني وسوسو په وسیله – په هغه باندې غالب او بریالۍ شي او هغه د خپلو

غوښتو په بند کښې راولي او انسان داسې لار ته راولي چې په ظاهره يې ګناه او فساد معلوم نه وي. له بل اړخه عقل دا کوشش کوي چې د ايمان په مرستې سره د نفس واګي په خپل لاس کښې واخلي هغه کانټرول کړي او خېر او کمال او د بدن او روح سلامتۍ ته يې هدايت کړي.
دې ته په پام سره د انسان شخصيت تل د عقل او شهوت، خېر او فساد، پاکۍ او پليتۍ، سلامتۍ او بې لارۍ په کشمکش کښې دے او دا جنګ او نښت به تل جاري وي.
يوازينې کس چې د جنګ په دې ميدان کښې، ژوندې او روغ پاتې شي هغه کس دے چې ځان د ايمان او تقوی په اسلحه مزبوت کړي او د ځوانۍ له لومړيو نه، په ځان جوړونې او نفس سره په جهاد کونې بوخت شي.
پکار دي چې دې خبرې ته پام وکړو چې دا کار کيدې شي او خداي پاک – چې يوازينې قدرت او د توکل ځاي دے او د کمزوري انسان ته له بلاګانو نه نجات ورکوونکې دے – د دعا او عبادت په وسيله د هغه انسان مرستې ته رسيږي او هغه په دغه هميشني جنګ کښې بريالۍ کوي.
په تاريخ کښې داسې ډېر انسانان شته چې د ژوند په ټولو ډګرونو، بهرني او دنني، نفساني او ټولنيزو جنګونو کښې بريالي شوي او سرلوړي شوي دي او خپل ټول عمر يې ښه په فخر سره تېر کړے دے.

صحيح نظر او ليد

قرآن کريم ، د حضرت يوسف(ع) د ځوانۍ ورځې بيانوي چې هغه څرنګه د بالغيدو او ځوانۍ په حساس وخت کښې د خپلې زماني د تاريخ په يو خطرناک امتحان او ازميښت کښې ګېريږي او په خپلې کلکې ارادې او نه خرابيدونکي ايمان په وسيله د خداي پاک له هغه امتحانه بهر راوځي. او د شرافت، عفت او پاکۍ په لوړ مقام ودريږي او د هغه شخصيت به د ځوانانو لپاره د يو کاملې نمونې په توګه تل باقي پاتې وي.
مؤمن ځوان، په صحيح نظر سره چې له اسلامه يې اخستې دے، په دې پوهيږي چې هر يوه ناخوښه پيښه چې په ژوند کښې مخې ته راځي – پداسې حالت کښې چې هغه کار يې پخپله نه وي کړے- هغه د خداي له اړخه امتحان او ازميښت ګڼلې شي چې د هغې هدف او مقصد د انسان د ژوند کمال او ترقۍ ته رسول دي.
د خداي له اړخه راستولې شوې رهبرانو او لويو پوهانو ژوند ليک ته چې په تاريخ کښې وګورو چې له هغو نه زياتو کسانو په زوره سختو او ډول ډول

پیښنو سره ژوند کړے دے او په نتیجه کښې د هغوي په ځوانې کښې بریالیتوب د هغوي د هغه صبر او د سختو په وړاندې د ولاړتیا نتیجه ده چې په وړوکوالي او ځوانې کښې یې داسې صبر کړے دے.

## ځوانان او د کورنۍ مشري

### لیک: مهري زینهاری

اوولس کلن یم. کله کله راته ځان ډېر سپک ښکاره شي او ځان بریالې نه وینم ځکه چې مور او پلار راسره لکه د ماشومانو کار کوي او زما خبرو ته څه اهمیت نه ورکوي او زما رواني او د مینې اړتیاوې نه پوره کوي هغه اړتیاوې چې هر ځوان لپاره ضروري دي زما دا خوښه ده چې د لږ وخت لپاره ملګرو سره کینم او هغوي ته د زړه درد بیان کړم خپلو کښې خبرې وکړو او وخاندو! کله چې په مدرسه کښې د تربیت کوونکو، استاذانو نصیحتونه واورم نو ځان هیله من کړم خو څنګه چې کور ته ورسیږم او د مور پلار یو بل سره او ځان سره غصې اوینم، نو په ټولو هیلو او امیدونو مې اوبه توې شي. ستا نه غواړم چې غم مې وکړې او ماته څه لار وښیې.

* * *

دا د داسې ډېرو ځوانانو د زړه خبرې دي چې د مور پلار د روزنې د طریقې نه د ناپوهۍ په وجه په دې مسئلو کښې راګېر شوي دي.
له همدې وجې مونږ دا غوره وګڼله چې د دې خبرو ځواب او لارښود سره سره د میندو او پلارانو لپاره هم څو تربیتي خبرې وکړو چې هغوي د زامنو د مینې او رواني اړتیاؤ ته په پام سره او د هغوي پوره پیژندنې سره د خپلو ځوانانو، صحیح روحي او بدني روزنه وکړي.
د ماشوموالي ختمیدو سره او د بالغیدو سره ځواني شورو کیږي چې سړي د ژوند د ټولو ارزښتمن وخت دے او ځوانان نوي اړتیاوو او مشکلاتو سره مخامخ کوي لکه: د عزت احساس، د مذهب ضرورت، استقلال او ځان غوښتل او داسې نورې روحي مسئلې چې ځوانان ګډوډ کوي. د ځوانانو د تربیت او روزنې لپاره د ټولو نه مشکل شې هغه ته صحیح او علمي تربیت احساس ورکول دي. له همدې وجې هغه مور پلار په یوه لویه ناپوهۍ او غلطۍ کښې پراته دي چې د ځوانانو د مشکلاتو ټول سبب د هغه مدرسه او استاذان ګڼي او هغه سره د خپلو کړو وړو نه غافل او بې

خبره دي هغوي لکه د شمشتۍ خپل خول کښې خپل سر وردننه کړے دے او ځوانانو سره د خپل بد رفتار او بدو کړو وړو غافل او بې خبره دي.
بې شکه چې په وړوکوالي کښې تربيت هم د سړي د ځوانۍ لپاره بنسټ وي. کوم ماشومان چې هوښيار مور پلار لري نو هغوي يوې ښې کورنۍ کښې تربيت شوي او روزل شوي دي، نو په ټولنه کښې هم ډېر زر نورو سره ځان سموي او زر ترې يو شخصيت جوړيدې شي. د هغه خلکو په اپوټه چې په وړوکوالي کښې له صحيح تربيته محروم وو او د مور پلار د ناپوهۍ او د فاسد او ناکاره کورنۍ لرلو له وجې بد تربيت شوي وي، هغوي په ځوانۍ کښې خلکو سره ښه ژوند نه شي کولې او خپله ټولنيزه ذمه واري ښه نه شي ترسره کولې.[1]
لايق او تکړه تربيت کوونکې هغه څوک دے چې يو ښه او حساب شوي پروګرام سره د ځوانانو مينه او خوښه بدله کړي هغه منظمه کړي، له يو اړخه د هغوي احساسات په ښې طريقې سره خړوب کړي او له بل اړخه هغوي د طغيان اود حد نه د وتلو نه منعې کړي.
په کومو کورنو کښې چې پلار ځوانانو سره په مينه او کښيناستلو سره او مور د هغوي سره په مينه او د زامنو او پلار تر مينځ د يو بل په پوهولو (تفاهم) سره ځوانانو ته هيله ورکړي، د ژوند اود کور په پيښنو کښې د هغوي له ليدتوګو او نظراتو نه ګټه واخلي، د هغوي په ارادې، ايمان او دوراندیشۍ کښې کوښښ وکړي، داسې کورنۍ د خپل اولاد ډېر لوي خدمت کړے دے.
د اسلام خوږ پيغمبر(ص) فرمايي:
أُوصيكُم بِالْسبّانِ خيرا فَاِنّهم اَرَقُ أفئدَةً
تاسو ته دا نصيحت کوم چې ځوانانو سره نيکي وکړئ ځکه چې د هغوي زړونه نازک (نرم) دي او ډېر زر خفه کيږي.
د پيغمبر(ص) په خبرو باندې عمل په دا رنګ دے چې د هغوي مشروعې اړتياوې پوره کړو او د هغوي روح خړوب کړو، او دا لازمه خبره ده چې د هغوي اړتياوې پوره کول د هغوي روحيات (عادتونه او خواهشونه) پيژندلو ته اړتيا لري.
له ټولو نه زيات چې ځوانان ورسره بې لارې کيږي او اخر کښې هم تباه و برباد شي هغه دوه څيزونه دي: يا خو د هغوي فطري غوښتې پوره شوي نه دي او هغوي پرې ملامته شوي دي او يا دا چې د هغه د ځينې غوښتو په پوره کيدو کښې زياتې شوې دے او له حد نه زياته ورته پاملرنه شوې ده.[2]

---

[1]. "بزرگسال و جوان"، علامه فلسفی، ۲ټوک، ۳۲۵۷مخ.
[2]. "جوان"، علامه فلسفی، ۱ټوک، ۳۳۴ مخ.

د ځوانانو د شخصيت درناوې

د ځوانانو د روحي اړتياوو څخه يو په هغوي کښې د شخصيت د احساس ويښيدل دي او د هغې شخصيت د ساتلو سره د هغه مينه کول دي. يو ځوان دا خوښه وي چې د هغه دې احترام او درناوی وشي او دا شې د ځان لپاره د ټولنې د پاملرنې نښه ګڼي او له دې کاره خوند اخلي، هغه دا خوښوي چې په خپلو همزولو کښې دې عزت او درناوې ولري او په کورنۍ کښې دې هم يو څوک وګڼل شي.

د کوم يو ځوان نظر او ليدتوګه چې د کور په کارونو کښې پکار راوستل شي، د هغه خبره واوريدل شي، پلار او مور ورسره لکه د يو خوږ ملګري اوسي او هر وخت يې احترام او درناوی کوي، هغه دا کوښښ کوي چې ځان له بدو وساتي له داسې کارونو ځان وساتي د کومو په سبب چې د هغه مقام او مرتبه کميږي.

امام صادق(ع) فرمايي:

"عَليكَ بالاَحْداثِ فَانّهم اَسْرَعُ اِلی کُلِّ خَيرٍ[۳]"

تاسو باندې لازمه ده چې ځوانانو ته پاملرنه وکړئ ځکه چې د خبر په کار کښې هغوي له نورو نه زيات وړاندې دي.

کله چې پيغمبر(ص) په مکه کښې د خپل رسالت اعلان وکړ، د هغه اړخ ته له ټولو زيات تلونکي، ځوانان وو چې خپل نرم او لطيف روح سره، او خپل ميړنتوب سره، په ډېره مينه او عشق سره يې د پيغمبر(ص) خبرې واوريدې او په حکمونو يې عمل وکړ او همدا خبره د قريشو د لويانو د غصې سبب شوه، پيغمبر(ص) به خپل ډېر کارونه د دې ځوانانو په سبب کول او په خپلو بيلا بيلو او مناسبو طريقو سره به يې هغوي خپلې لارې ته هيله من کول او د هغوي له نظريو او ليدتوګو به يې ګټه اخستله.

د هغه ځوان په اپوټه چې مور پلار سره يې قدر نه وي او په کارونو پورې يې مسخره کوي او هر وخت پرې اعتراض کوي او د وړې وړې غلطۍ په وجه ملامته کيږي او هره ورځ سختو او بې ځايه غصو سره مخامخ وي او مور پلار يې ملامته کوي، داسې ځوان ځان سره د حقارت او سپکاوي احساس کوي او د دې روحي حالت نه تل خفه وي او اخر دا چې بې لارۍ ته مخه کړي.

امام صادق عليه السلام د شرارت او بې لارۍ وجه حقارت او پستي او سپکاوې ګڼي، فرمايي:

---

۳. وسايل الشيعه، ۱۱ټوک، ۴۴۸مخ، ح۱

مَنْ هانَتْ عَلَيه نَفْسهُ فَلا تَأْمَنْ شَرَّه[4]
کوم یو کس چې د هغه نفس او ځان هغه سپک ګڼي د هغه د شر او بدۍ نه په امان نه يې.
هغه انسانان چې په زړه کښې غُټې لري او بد کسان دي هغوي د خپلو روحي اړتیاوو پوره کولو لپاره او ځان ته د نورو پام راړولو لپاره، بدو او ناخوښو کارونو ته لاس اچوي او ځان د قانونونو، ادبونو، او ټولنیزو رسمونو پر خلاف معرفي کوي او خلکو ته يې ښايي.

غصه نه، مینه
ځوان د ګل د هغه ښاخ غوندې دے چې ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري، هغه د مناسب بدني خواراک نه علاوه، مناسب روحي خوراک ته هم اړتیا لري. کله چې ترې یوه خطا او غلطي وشي نو پکار دي چې د ملګرو او موجودو کسانو په وړاندې هغه داسې ملامته نه کړې شي چې هغه په خپل غلط کار لازیات ټینګ شي.
پلاران او میندې پکار ده چې په دې خبره پوه شي چې د ځوان ناروغه روحي حالت یو طبیعي شې دے او د دې لپاره چې ځان له ماشوموالي وباسي او د ځوانۍ وخت کښې قدم کیږدي نو د روحي مشکلاتو سره مخامخ کیږي او د ناپوهۍ له وجې ترې ځینې غلطۍ او خطاګانې کیږي، پکار دي دا غلطۍ په صبر، ظرافت او پوهې سره نالیدلې وګڼې او په ماهرانه طریقې سره يې لرې کړې له همدې وجې امیرالمؤمنین علی(ع) فرمايي:
جَهْلُ الشباب معذورٌ[5]
د ځوان د نه پوهیدو عذر او معافی غوښتل قبلیږي.
له همدې وجې میندې او پلاران پکار دي خپلې تربیتي خبرې داسې بیان کړي چې د ځوانانو د ملامتۍ سبب ونګرځي، نو د تربیت او متوجه کولو د ټولو نه ښه شکل او طریقه د داسې جملو او ټکو استعمالول دي چې کنایه او شاره وي او دا کار به ډېر اثر هم لري.
حضرت امام علي(ع) فرمايي:
تلويحُ زَلّةِ العاقِلِ لَهُ اَمَضّ مِن عِتابِه[6]

---
[4]. تحف‌العقول، ترجمه شوې، ۵۱۲ مخ.
[5]. غررالحکم، ۳۷۲ مخ.
[6]. غررالحکم، ۳۴۸ مخ.

عاقل سړے کنايې سره متوجې کول د هغه لپاره د (مخامخ) ملامته کولو (سزا ورکولو) نه زيات اثر لري.
له بده مرغه ځينې پلاران او ميندې د خپلو ځوانانو د اصلاح او تربيت په نيت خپل ملامته وونکي ټکي بيا بيا وايي او هغه د خلقو په وړاندې ملامته کوي، له دې نه غافل وي چې د ملامتۍ تکرار او بيا بيا ويل اپوټه اثر لري.
امام علی(ع) فرمايي:
اَلاِفراطَ فی المَلامَةِ يَشُبُّ نيرانَ اللّجاج[7]
په ملامتۍ کښې زياتې کول، د دښمنۍ او لجاجت اور لا زياتوي.
د تربيتي خبرو او د مطلب د بيانولو له ټولو نه ښه طريقه د داسې جملو او الفاظو استعمالول دي چې له مينې او ادب نه ډک وي.[8]
که ځوان په دې خبره پوه شي چې پلار او مور نصيحتونه يې د زړه سواندي او د هغه د راتلونکي ښه وخت د غوښتلو لپاره دي نو د هغوي خبرو ته غوږ نيسي او مني يې، خو که دا محسوسه کړي چې دا خبرې هغوي د خود خواهۍ(ځان غوښتې)، غرور، او استبداد له وجې دي، نو اپوټه کيږي او د هغوي په وړاندې مقابله کښې ودريږي. په اخر کښې د اميرالمؤمنين حضرت علی(ع) يو بل روايت ته اشاره کوو چې فرمايي:
وَلَدُكَ ريحانتك سَبْعا و خلوتك سَبْعا ثم هو عدوّك اَو صديقُك[9]
ستا زوې تر اوو کالو پورې ستا د لاس ګل دے چې ستا په اختيار کښې دے، او د ژوند په دويمو اوو کالو کښې ستا خدمتکار او مطيع (خبره منونکې) دے، (بيا په ځوانۍ کښې) يا ستا دښمن دے يا دې ملګرې دے.
دا روښانه ده چې په وړوکوالي کښې د مور پلار او د استاذانو د تربيت طريقې په ځوانې کښې اثر لري، هغه پلار يا مور چې په صحيح بنسټ صحيح طريقه يې خپل ځوان تربيت کړے او روزلے وي او د هغه احترام او درناوې يې کړې وي نو زوے هم د هغه دوست او ملګرې وي. او د دې په اپوټه که په غلطې طريقې يې لوي کړې وي او د خپل ځوان جائزو غوښتو ته يې پام نه وي کړې نو هغه د ځان لپاره يو کينه کښ دښمن تربيت کړے دے.

---

۷. بحارالانوار، ۲۳ټوک، ۱۱۴مخ.
۸. لکه څنګه چې لقمان پيغمبر خپل زوې ته د ښو کارونو لکه مونځ، د ښو کارونو حکم کول او له بدو نه منعې کولو، د عبادت او نورو، د وصيت په وخت د "يابُنَیّ، اې زويه" ټکي پکار راولي. سوره لقمان آيه ۱۲
۹. د نهج‌البلاغې، ابن‌ابي‌الحديد شرح، ۲۰ټوک، ۳۴۳ مخ.